# د ادبي کره کتنې ( تنقيد ) معيارونه

# Qualities of literary critics

**Sayyed Muhi Ud Din Hashmi** ★
**Dr Farkhanda Hayat** ★★

**ABSTRACT:**

Literary critics keeps it own particular characteristics, in the light of these characteristics such questions are answered. Which exceptional qualities are possessed by a literary work? Is the subject matter is more important or its form? If the form is more important then what are its characteristics? If importance is given to subject then what are its uniqueness either its attractiveness, ethical. Faith or political characteristics?

How much significance and importance is there in the literary writing? What is the planning behind to achieve its benefit? What are the goals and objectives of a specific literary work? And the outcome is useful or not? Either the language of a literary work is simple and understandable and attractive one or not?. What the environment in which this writing took place? What are its periodical advantages and disadvantages? Either It is of high value or not. Is culture is highlighted in the said work or not? To which school of thoughts it belongs? What are the targets of the writer? Either it covers all the literary requirements or not and other such questions and answers

ادبي کره کتنه خپل ځانګړي معيارونه لري ، چې د هغو له مخې تر سره کيږي . کره کتونکی ددغو معيارونو له مخې يا هغو ته په پاملرنه په يو ادبي اثر کښې ددې لاندې پوښتنو ځوابونه ګوري: هنري يا ادبي اثر کومې ځانګړنې لري ؟ د ادبي اثر مضمون مهم دے که ئې شکل ؟ که شکل مهم دے، نو خصوصيات ئې څۀ دي ؟ که مضمون ته ارزښت ورکول کيږي په هغو کښې کوم اړخ تر نورو

★ **Professor Language & Literature centre of Academic Science Afghanistan**
★★ **Associate Professor Pashto Academy University of Peshawar**

دمخه دے : ښکلاییز ، اخلاقي ، عقیدوي ، سیاسي او که بل څۀ ؟ په ادبي اثر کښې څومره واقعیت او څومره تخیل شته او افاده ئې په کوم سبك شوې ده ؟ د ادبي اثر هدف او غرض څۀ دي؟ تر لاس لاندې متن ثقه دي ؟ د ادبي اثر ژبه صریحه او خوږه ده ؟ د ادبي اثر د تخلیق چاپیریال څۀ ډول دي ؟ له عصري معیار سره سم ئې ښکلاوې او عیبونه کوم دي ؟ اثر ابتکاري دے که مبتذل او تکراري ؟ د لیکوال دریځ او په اثر کښې کلتوري انعکاس څنګه دے ؟ ادبي اثر په کوم جریان پورې اړه لري ؟ د لیکوال هدف او ارزښتونه کوم دي ؟ ایا ادبي عنعنې په کښې مراعات شوي دي ؟ او داسې نورې پوښتنې او غوښتنې .

(د ادبي کره کتنې تاریخي پس منظر او معیارونه) اثرلیکوال د کره کتنې دمعیارونو د پېژندنې په اړه لیکي :

((آیا په کره کتنه کښې جهان شموله (universal) معیارونه او اصول شته ؟ په دې برخه کښې دوه ډوله نظرئې لیدل کېږي : ځینې معیارونه نسبي ګڼي او وایي چې د کره کتنې معیارونه له یوې خوا د شخصي ذوق او ځکښې تابع دي او له بلې خوا د هر کره کتونکي معیارونه د هغه له جهان بینۍ او د تفکر له څرنګوالي څخه مشتق کېږي . په دې اساس د ادبي اثارو ارزیابي د جهانشموله عیني شرایطو غېږې ته ځان سپاري او په عندي بڼه پاتې کېږي . ځینې نور د مطلقیت پر خوا دي او ادعا کوي چې سربېره پر نسبي معیارونو ځینې مطلق معیارونه هم شته ، چې پر ټولو ادبي اثارو په هر ځائے کښې او هر وخت د تطبیق وړ دي . د مثال په توګه : مونږ حتی په شلمه پېړۍ کښې د (هومر) له حماسې څخه خوند اخلو او له هغې څخه داسې فلمونه جوړوو ، چې لګښت ئې تر عادي فلمونو زیات دے . د هومر د ژوند داستان د روایتونو په غبار کښې پټ شوی دي او هیڅوك په یقیني توګه نه پوهېږي چې دي چېرته او څۀ وخت پیدا شوے دے ، په یو حساب دي له نن څخه نژدې درې زره کاله مخکښې ژوندے ؤ، خو د ادب په نړۍ کښې هیڅ وخت نۀ دي مړ شوے .... همدا رنګه د ( شکسپئیر) او (مولیر) ډرامې لاتر اوسه د نړۍ په اکثرو تېټرونو کښې ښودل کېږي.

په دې ترتیب مونږ ګورو چې یو زیات شمېر ادبي کلاسیك اثار په هر وخت او هر ځائے کښې د ستاینې او پاملرنې وړ ګرځېدلي دي او د ادبیاتو په تاریخ کښې لوړ مقام لري . دغسې نامتو اثار هرو مرو ځینې ګډ ارزښتونه او ارزښتمن خصوصیات لري ، چې د تاریخ پر پېکر باندې د قیمتي غمیو په شان ځړېدلي او ځلېدلي دي او خپل ارزښت ئې له لاسه نۀ دے ورکړے ، نو وئیلے شو چې : پر نسبي معیارونو سربېره ، ادب ځینې مطلق معیارونه هم لري، چې د زمان او مکان له قیودو څخه آزاد دي . ددغو اصولو او معیارونو تشخیص او پلټنه طبعاً مشکل کار دے ، خو له موجودیت څخه ئې سترګې نشو پټولے .

له بلې خوا د نسبیت د نظریې پلویان پوښتنه کوي ، چې آیا د کلاسیکو اثارو کره کتونکي کولے شي یو ډول معیارونه ومني ، د مثال په توګه (شکسپیر) یوه وتلې او نامتو ادبي څېره ده ، خو کله چې دده اثار ارزیابي کېږي مختلف کره کتونکي دده د اثارو مختلف اړخونه ستایي ، ځینې ئې مضمون ته پاملرنه کوي او ځینې ئې شکل ته . ځینې ئې ټولنیزه قرینه کښې ګوري او نور ئې د سایکالوژۍ برخه په نظر کښې نیسي ، ځینې ئې د (نږه ) هنر په تله کښې تلي او نور ئې د اخلاقي ارزښتونو له موازینو سره برابروي ، پر دې اساس وئیلے شو چې د کره کتونکو معیارونه بیا هم نسبي بڼه غوره کوي او نه شو کولے چې یو مطلق او د ټولو له خوا یو منل شوی معیارورباندې تطبیق کړو .

له دې پورتنیو کتنو څخه دې نتیجې ته رسېږو چې :د کره کتونکو معیارونه یو له بل سره توپیر لري)) (۱)

د ادبي مسئلې اثر لیکوال د کره کتنې د معیارونو په اړه په ډېر تفصیل سره بحث کړے، چې دلته ئې په لنډیز سره ځینې ټکي رااخلو :

لیکوال د ادبي کره کتنې درې معیارونه راپېژني : لومړی د شکل د ارزښت موندنې معیار دے . دا چې ادبیات د خیال د انځورونو هنر دے ، نو پر مفکورو باندې هر ډول تیری او لوڅ تبلیغ ادبي اثر ته د تل له پاره زیان رسونکي دي . د مثال په توګه: د ډېرو نامتو لیکوالو داسې ښه اثار هم شته چې له دغه معیار څخه ئې سرغړونه کړې ده او دا ورڅخه جوتېږي چې د

ادبیاتو له هنر او د سیاسي مقاله لیکونکي له اند پښتنو څخه پیوند شوي مرکب اثار هم منځ ته راتلې شي ، خو بیا هم باید له دغه کار څخه ډډه وشي .

دوهم مشخص معیار ، چې له عام معیار څخه رازېږي د شکل له نوښتګر ځواك سره اړه پیدا کوي . خو د نوښت دغه ځواك باید له څهٔ شي څخه تشکیل شوي وي ؟ په ښکاره توګه له دې څخه چې : د یو اثر شکلي جوړښت او هیئت باید له مفکورې ، د هغه له محتوا سره د نه جلا کېدونکي وحدت په بڼه نغښتې وي ، البته چې یو اصیل هنري اثر که چېرې په محتوا کښې نوے نهٔ وي، اثر ارزښت نهٔ لري . دا خبره څرګنده ده چې هنر مند باید هغه څهٔ ووایي، چې مخکښې وئیل شوي نهٔ وي .

په پایې کښې د شکل د ابتکاري قوت (د شکل د نوي والي) له خاص قانون څخه دریمه ستره سرغړونه د شکل او بڼې افراطي نوے توب دي ، چې په هغه کښې د محتوا پوخوالی په شکلي سینګارونو او تفنیاتو ډکېږي .

باید چې دریم شکلي معیار د اثر نړیوالتوب هم په احتیاط سره وڅېړل شي.

تولستوي په دې برخه کښې په ځغرده او پیاوړتیا سره خبرې کړې دي . مونږ چې د خلکو لپاره د ادبیاتو له هستولو سره زیاته مینه لرو او هغوي ته د اصلي ژوندانه د جوړوونکو په توګه ګورو او مراجعه ورته کوو . د ادبي اثارو دنړیوال توب سره هم دلچسپي لرو ، ادبي کره کتونکي باید د تعقید او تجرید ټول شکلونه او هر ډول پیمان او سینګار ټول هغه شکلونه چې د متخصصو ښکلا خوښوونکو د یوې وړې کړۍ لپاره وي ، رد کړي . د ادبي کره کتنې معیارونه ددغه ډول رومبنیو او اوسنیو اثارو محتوایي ښېګنې هم شرحه کولې شي او باید چې د هغو لیکوالو فکري محدودیتونه ، چې هڅهٔ کوي په دغه ډول شکلي دودونو خپل ځانونه له واقعیت څخه لیري وساتي ، وغندي . (۲)

پوهاند دکتور عبدالقیوم قویم په خپل اثر (نقد ادبي) کښې د کره کتنې معیارونو په اړه په تفصیل سره بحث کړے دے ، ځینې ټکي ئې دلته په لنډیز سره رااخلو :

کره کتونکي د اثارو د تحلیل ، ارزیابۍ او کره کتنې لپاره ارزښتناك معیارونه لري ، خو یو غوره کره کتونکي یو معیار د ځان لپاره نه مطلق کوي

، ځکه چې ادبياتو څرګنده کړې ، چې د معيار مطلق ګرځول د ادبي پنځونو او تخليقاتو لپاره زيان رسوي او کله کله ورځخه يوه لويه ګډوډي جوړيږي .
ادبي کره کتنه د ماثيو ارنولډ په قول دا هڅه کوي د شعر او ادب د نړۍ په اړه زياته او هر اړخيزه پيژندګلوي تر لاسه کړي ، دا چې د کره کتنې اصلي کار د اثارو ارزونه او پر هغو کره کتنه کول دي ، په حقيقت کښې دا ډول طرز تلقي هم ددې غوښتنه کوي چې کره کتنه بايد د اثارو د ارزونې لپاره ځينې معيارونه ولري . خو د کره کتنې تاريخ ددې څرګندوی دي چې کره کتنه له دغه ډول قضاوتونو څخه ډکه ده او داسې څرګندوي چې د يو واحد معيار ترلاسه کول ستونزمن او ناشونے کار دي .
په هر حال د معيارونو ارزيابي ، هغه کره کتونکي چې خپلې پيژندنې ته اهميت ورکوي ، له دې بحث سره مخامخ کوي چې له ادبي کره کتنې څخه بايد د کومې دندې د سر ته رسولو هيله او توقع ولرو .
کره کتنه د يو هنري ادبي اثر د ښکلا پلټنه او موندنه وي او که د هغو عيبونه او نيمګړتياوو ښودل وي ، چې د شاعر يا ليکوال په وينا کښې وي ، ځينو معيارونو ته اړتيا لري ، چې هغه له کره کتونکي سره د خپلې دندې په سر ته رسولو کښې مرسته کوي .
د ادبي کره کتنې يو معيار ، چې د ادبي اثارو په ارزولو او ارزښت موندلو کښې د پاملرنې وړ ګرځېدلي ، د لفظ يا کلمې د کارولو لارې چارې موندل وي . لنډه دا چې که د ادبي کره کتنې د کلمې معيار په ادبي اثارو ، په ځانګړي ډول په شعر کښې په پام کښې لري ، بايد چې په ادبي اثارو کښې د کلمې د نقش او ونډې ، په ځانګړي توګه په شعر کښې د کلمې د کارولو په اړه دقيق او بشپړ معلومات ولري .
سره له دې چې لفظ او معنا په ادبي اثر کښې لازم او ملزوم دي ، ځينې کره کتونکي د ادبي اثر د جوړښت ځينې نور اړخونه د کره کتنې پر مهال په ډېر غور او دقيق ډول په پام کښې نيسي ، چې هغه اړخونه عبارت دي له املايي ، انشايي ، سبك ، صرفي او نحوي اړخونه ، د ليك ښو نښانو پر ځائے کارول او داسې نور مسائل په يو ډول تر پاملرنې لاندې ولري .

پر دې پورته يادو شويو معيارونو سربېره ، د نن ورځې په کره کتنه کښې يو بل معيار هم ډېر مهم او ارزښتمن ګڼل کېږي ، چې هغه د ادبي اثارو ارزښت دے، په دې معنا چې شاعر او ليکوال څنګه او څومره د تصوير جوړولو د چارې په سر ته رسولو کښې بريالى دي .
د ادبي او هنري اثارو د کره کتنې لپاره کولے شو ، چې نوښت او ابتکار هم د معيار په توګه وګڼو . په دې صورت کښې دادبي اثارو په تخليق او پنځونه کښې تقليد او پېروي کول له ابتذال څخه پرته بله ګټه او ثمره د ځان سره نۀ لري . شعر او ادب او همدارنګه بل هر هنر په بنسټيزه توګه په نوښت سره ژوند کوي . پر دغو پورته يادو شويو معيارونو سربېره کولے شو ، ځينې نور معيارونه هم ياد کړو ، د بېلګې په توګه دا ، هغه کره کتونکي چې د ټولنيزو پرنسيپونو پر بنسټ اثار ګوري او کره کتنه پرې کوي په واقعيت کښې پر ټولنيزو لارو چارو ډېره تکيه کوي . يا هغه کره کتونکي چې خپل د کره کتنې کار د شاعر يا ليکوال له دننيو حالاتو او روحياتو د پېژندنې پر بنسټ کوي ، معلومه خبره ده چې په ادبي اثر کښې د جاذبې د څرنګوالي مسئلې ته پاملرنه کوي .
داسې کره کتونکي هم شته چې يو ادبي اثر له تاريخي نظره ګوري او قضاوت پرې کوي ، په دغه صورت کښې د هغوي موخه او هدف د اثر د جعلي والي او اصلي والي جلا کول دي . په واقعيت کښې د تاريخ او کره کتنې اړيکه ډېره پېچلې ده . هغه کره کتونکى چې ادبي اثر د تاريخ په رڼا کښې ارزيابي کوي هغه خپله دغه چار د ټولنپوهنې ، ارواپوهنې او ښکلا پوهنې يا پېژندنې له اړخه د اثر د پېژندنې پرته د هغه سم مفهوم نۀ شي پيدا کولے .
د يادونې وړ ده چې په افغانستان کښې د کره کتنې ځينې مروج معيارونه او همدارنګه د سيمې د هيوادونو معيارونه د اروپايي کره کتونکو څخه اقتباس او رااخيستل شوي دي ، ځکه چې زمونږ په هيواد او همدارنګه د سيمې په هيوادونو کښې د ادبي اثارو نقد او کره کول هومره زياته لرغونتيا نۀ لري . (۳)
له دې پورته څرګندونو څخه جوتيږي چې په کره کتنه کښې د معيار شتون حتمي او لازمي کار دے ، هر کره کتونکي د کره کتنې پر مهال ځينې

معیارونه لري ، دغه معیارونه ځینې ځانګړي او ځینې نړیواله بڼه لري ، چې په کره کتنه کښې د کارونې ځانګړي مواد لري .

سرشار روشني په خپله هغه لیکنه کښې چې په کره کتنه نومې اثر کښې خپره شوې ، په کره کتنه کښې د معیار د شتون په اړه بحث کړي ، چې دلته ئې ځینې ټکي په لنډیز سره رااخلو :

۱ـ د کره کتنې ، تقریظ او چاڼولو له پاره معیارونه باید په علمي اساس ولاړ وي، د مثال په توګه که یو ادبي اثر شعر وي ، که نثري داستان وي او که ادبي تیوټه ، علمي څېړنه وي او که تخلیقي اثر باید د هم هغه اثر له مخې په داسې معیارونو وسنجول شي چې په علمي توګه منل شوي وي ، او حقیقت باید تر احساساتو لاندې رانشي .

یا که یو سړي د تحقیق او څېړنې له مخې کوم اثر منځ ته راوړے وي ، نو پکار دي چې د هغه کره کتنه د هماغه عصر یا د هماغه علم د معیارونو له مخې وسنجول شي او د هغه عصر معلومات دې د یو مؤرخ یا لیکوال د نظریې له مخې ونه سنجول شي .

۲ـ د اثارو د کره کتنې په وخت کښې د اثر د شکل او محتوا یا منځپانګې تر منځ د معمولو قواعدو له رعایت سره سم د قضاوت په نظر کښې ساتل ضروري کار دے .

۳ـ کره کتونکی د خپل قضاوت په وخت کښې باید هیڅ خبره تر شخصي عواطفو لاندې ونه څېړي ، بلکې د خپل قضاوت معیار هغه اصول او چلند وګرځوي ، چې په ربښتیانې توګه محك وي ، که څۀ هم دغه اثر په خپله پر شخص باندې انتقاد او کره کتنه وي . د کره کتنې پر مهال کره کتونکي ته د معیارونو په پام کښې نیول هم د اشخاصو له نقطه نظره توپیر لري . د ځینو خلکو لپاره د معیارونو اساس ایډیالوژیك وي او بیا په ځینو مواردو کښې سوچه علمي بنسټونه وي ، چې د هر چا او هر ځائے لپاره د منلو وړ وي .

د ادبي مکتبونو منځ ته راتګ او د هغو پر اساس د اثارو لیکل یا پنځول (تخلیق کول) یا په هغو معیارونو باندې د قضاوت په وخت کښې تکیه کول اوس په زیاترو ځایونو کښې مثبت چلند بلل کېږي ، که څۀ هم ددې امکان

شته چې د ایډیالوژیو د پیروۍ پر بنا له همدغو مکتبونو څخه ناوړه استفاده وشي ، مګر په هر حال د ادبي دورو یا مکتبونو د معیار لپاره باید همدغو پرنسیپونو ته مراجعه وشي او د کره کتونکي د قضاوت معیار باید د همدغو بنسټونو پر بنا ټولنه او د ټولنې د وګړو د اکثریت فرهنګي خدمت اود فرهنګ د کچې لوړول وي . (۴)

سعد الدین شپون په خپله هغه لیکنه کښې چې «درې دي د نقاد پوښتنې درې دي» تر سرلیك لاندې د (کره کتنه) نومې اثر کښې خپره شوې ، د کره کتونکي لپاره د کره کتنې پر مهال دا لاندې درې پوښتنې د معیار په توګه ګڼلې دي :

۱ـ څۀ شی ئې وئیلي ؟

په محکمه کښې چې قاضي د متهم یا تورن عمل څېړي ، چې د هٔ کړی دي ، په لیکنه کښې هم باید دا وڅېړل شي چې لیکوال څۀ وئیلي دي . په دې برخه کښې د بنیادم قوي او اجتماعي تجربې لویه سیمه لیکوال ته خلاصه ده او آزاد دي ، چې د هغه په هره څانګه لیکنه وکړي ، فقط باید لیکوال په دې ګرم نۀ کړي چې ولې ده د (الف) پر ځائے د (ب) موضوع نه ده انتخاب کړې .

عشقي ، حماسي ، اجتماعي او بل هر ډول مضمون د لیکوال لپاره مجاز دي ، په دغه برخه کښې د کره کتونکي وظیفه داده چې د لیکوال وینا دې له لومړي سره څخه تر آخره پورې تشریح کړي، یعنې صورت دعوٰی دې ورته ولیکي ، البته لاژمه نۀ ده چې د لیکوال ټوله لیکنه دې بیا رانقله کړي ، بلکښې د هغه نظر ، د هغه نړۍ لید ، د هغه دکیسې او داستان خاکه ، د هغه د شعر کړۍ ، یا هغه منظره چې ددې لیکنې اظهارولو ته ئې هڅه کړې رابرسېره کړي .

۲ـ څنګه ئې وئیلي ؟

کله چې لومړنۍ دنده کره کتونکي بشپړه کړه او د لیکوال صورت دعوٰی ئې وکښله دویم کار چې کره کتونکي ته ورپه غاړه دي ، دادي چې د لیکوال د وینا طرز دې وڅېړي .

۳ـ هغه څۀ چې وئیل شوي په وئیلو ارزي ؟

کره کتونکي په دریمه برخه کښې ګویا د لیکنې د هار ، مرۍ ، لونګ ، څونډۍ سره پرتله کړل ، ټول ئې جلا جلا وشمېرل او دهغو ځایونه ئې ولیدل ،

چې په څهٔ شمار جړاو شوي دي او ايا په هماغه توګه چې ليکوال اوڼلي يوازينۍ رښتيانۍ منطقي طريقه ده او که نه ؟

د کره کتنې دريم پړاؤ چې بايد په ډېر احتياط سره ووهل شي ، يو اخلاقي ، فلسفي او منطقي قضاوت دے ، زه فکر نه کوم چې په اوسني وخت کښې چې لاکره کتنه زمونږ په ټولنه کښې ماشومه ده ، دا کار لکه څنګه چې ښايي د ډېرو له لاسه پوره او د ډېرو نورو لپاره د زغم وړ وي . دلته معيار دادي چې کره کتونکے سم دم قاضي دے او په اثر د منظور او نامنظور حکم کوي . له همدې امله دلته د ځينو معيارونو او ادبي مقرراتو په خيال کښې ساتنه ضروري ده ، يو اساسي عنصر چې دي دا آخري قضاوت پرې درولے شي هماغه دوه پړاوونه دي چې پاس ياد شول ، په تېره دويم پړاؤ .

د يو معيار په توګه بايد دا لاندې پوښتنې د اثر څخه وشي :

دا اثر څومره د ژوند له شتمن کولو سره مرسته کوي ؟ څومره انګېرنې ئې له اوسنيو علومو سره اړخ لګوي ؟ هغه ارزښتونه چې په دې اثر کښې پالل شوي دي ډېر پائېدونکي دي که ژر تېرېدونکي ؟ آيا د يو ټولنيزې پديدې ظاهري بڼه ګوري او که په رنګينو تش مينځي شعارونو ځان مشغولوي او که څنګه ؟ او تر ټولو مهمه پوښتنه دا چې : آيا اثر څهٔ نوښت لري ، يا هماغه زوړ مطرب خانه خراب دي . (۵)

# حوالې

۱. روهي محمد صديق (کانديد اکاډميسن)، د ادبي کره کتنې تاريخي پس منظر او معيارونه، محمد صديق روهي ټولنه، افغانستان ، خوست، ۱۳۸۰ لمريز کال، ۴۱-۴۳ مخونه .

۲. الهام محمد رحيم( ډاکتر- کانديد اکاډميسن )، د ادب مسالې، د افغانستان د ليکوالو انجمن، کابل، ۱۳۶۷ لمريز کال، ۷۷- ۸۰ مخونه .

۳. قويم، عبدالقيوم( پوهاند - ډاکتر) ، نقد ادبي، انتشارات کتاب، پېښور، ۱۳۷۹ لمريزکال، ۶۲- ۸۱ مخونه .

۴- سرشار روشني، ادبي چاڼ، (مقاله) کره کتنه( د مقالو ټولګه)، د قومونو او قبايلو وزارت کابل ، ۱۳۶۴ لمريز کال ، ۴۶ - ۴۹ مخونه .

۵. شپون سعدالدين، پورتني اثر ( کره کتنه ) که درې دي د نقاد پوښتنې درې دي، ( مقاله ) ، ۳۱-۳۴ مخونه .